

پوهاند محمد بشیر دودیال

# د اسیان( ASEAN) د سازمان پیژندنه، ستونزې او نوی وضعیت

( د آزادی سوداګری تاوده بحثونه)

(دبنکاک په ښار کې د اسیان د کلنیغونډې په مناسبت)

**سریزه**

د آسیا د جنوب ختیزو ملتونو د ټولنی (اسیان) کلنۍ غونډه په داسې یو مهال کی د ۲۰۱۹م. کال نومبر په دوهمه نیټه (پرون) پیل شوه، چې لا د شانګهای غونډې پای ته نه وی رسیدلی. دا په داسې حال کې چې د آسیا یی پړانګانو (سینګاپور، جنوبی کوریا، هانکانګ او تایوان) اقتصاد لا د ثبات په لوری روان دی ، په نړیواله سوداګری کې یې د تجا رت حجم او ارزش مخ په وده ښکاري، له بلې خوا په دې وروستیو کې د Euro-Asia د حوزې خپل منځي استحکام او د راتلونکی اقتصادی قدرت زیاتیدو؛ اتلانتیزم ته تشویش پیدا کړی دی. ممکن د تشویش مسئله به نه وی، خو رقابت د اوسنی عصر یو واقعیت دی، په تیره بیا په اقتصاد کې رقابت څخه سترګی نشی پټیدای. شانګهای خپله آجندا کې د اقتصادی مسایلو ترڅنګ یو شمیر امنیتی مسایل هم ځای کړی دی، چې دا یې د نظامی اړخ څرګندونه کوي. پورته ټول ټکي که له یوې خوا د آسیا دجنوب لپاره په زړه پورې دي، له بلې خوا یې د لویدیز( په تیره د امریکې د متحده ایالاتو) پام ځانته رااړولی دی. له دې څخه د آسیان

غړی هم ستر ګڼي نه پېژني. آلمان بیا په انفرادي ډول له هند سره د اقتصادي تعلقاتو د نوي کولو ژمنه وکړه او چین لا هم د خپلې لویې لارې نقشه تعقیبوي.
په دې چاپېریال کې د امریکې د متحده ایالاتو ولسمشر ټرمپ دریځ چې د دغو ټولو په وړاندې یې غوره کړی دی ، د دوی هر یوه لپاره سودا وراچولې ده. د مالیزیا صدراعظم ماهاتیر د غونډې په اوله ورځ واضح وویل: د آسیا دجنوب هیوادونه د ټرمپ د سوداګریزې جګړې په وړاندې یو موټی کېږی!) په غونډه کې حاکمه فضا د اسې ده چې دوی وایي چې موږ نه غواړو اقتصادي – سوداګریز جنګ ته ننوځو، بلکې دا نور دي چې دا جګړه یې پیل کوې. له بلې خوا چین په دې هڅه کې دی چې په سیمه کې لویه تجارتي منطقه جوړه کړي. د دغې ځلور ورځنۍ غونډې اصلي موضوع سوداګري ده. د دوی ټولو اندېښنه روهنګیایي مهاجرو او له ګاونډیو ټاپوګانو سره د چین لانجې او د جنوبي او شمالي کوریا مسایلو په هکله هم ده. دغه وروستۍ پېښې د آسیا د جنوب نوې کشالې دي.

### بنکاک(Bangkok ) د غونډې کوربه

بنکاک د تایلند پلازمینه؛ چې په آسیا کې یو ښکلی ساحلي ښار دی ، ددې غونډې کوربه دی. دسېږې جګړې پر مهال دغه ښار لویدیز ته ستراتیژیک ارزښت درلود . د لویدیزو هیوادو پیاوړې سفارتونه همدې ښار کې و او اوس هم دي.



د اسیان (ایشین) مشران په بنکاک کې( د ۲۰۱۹م. کال د نومبر کلنۍ غونډې په پیل کې)

دغه ښار اوس اته میلیونه نفوس لري، چې د ټول تایلند په سلو کې ۱۲جوړوي. دغه ښار د نوي تمدن بیلګه، د نړیوال لوی هوایي ډګر لرونکی، دمیترو خدماتو، بریښنا، لُکس هوټلونه او عصري پارکونو، روغتونو او نورو له امله نړیوال نوم لري. دتوریزم ډېرې جاذبې، محلي لوبې او ورزشونه او د بودیزم مزدکونه او نور یې حیرانوونکې دي.



**( (ASEAN) ایشین یا آسیانڅوک دي ؟**

د( Association of South East Asian Nations) د آسیا سویل ختیزو ملتو ټولنهیااسیان ټولنه دمالیزیا،فلپین،اندونیزیا،تایلنډ او سنګاپور هیوادونو له خوا د ۱۹۶۷م. کال د اګست په اتمه دتایلند په بنکاک ښار کې جوړه شوه.وروسته برونی اودارالسلام په ۱۹۸۴م. کال کې، ویتنام په ۱۹۹۵م، لاووس او میانمار په ۱۹۹۷م. کال او کامبوج په ۱۹۹۹م. کال کې ورسره یو ځای شول.دسویل ختیزې اسیا دملتونو ټولنې هدف دبنکاک په اعلامیه کې داسې راغلي دي:

- دګډو همکاریو پراختیا ،
- خپل منځي ، اقتصاد او سوداګرۍ ته وده ورکول او د ګمرکونو آسانتیا،
- په اقتصادي، ټولنیز، فرهنګي، فني او څېړنیزو برخو کې متقابلې مرستې.

په نوموړي اعلامیه کې د چاپیریال ساتنې او دبشري حقونو او دیموکراسۍ دتحقق په برخه کې د غړو هیوادونو ترمنځ پرهمکارۍ هم ټینګار شوی دی. نوموړي ټولنه ددولتي تشکیلاتو او د یو لړ غیر انتفاعي تشکیلاتو درلودونکې ده. په دولتي تشکیلاتو کې یې ددولتونو دمشرانو او بهرنیو چارو دوزیرانو غونډې شاملې دي. دسویل ختیځې اسیا دملتونو ټولنه ځینې کاري کمیټې هم لري.

**دASEAN غونډې**: دسویل ختیځې اسیا دملتونو ټولنې سرمشریزې غونډې په کال کې یو ځل په یوه غړي هیواد کې جوړېږي او پرسیمه ییزوموضوعاتو خبرې اترې کوي. غونډې معمولاً درې ورځې وخت نیسي او دکار طرزلعمل یې داسې دي چې غړي هیوادونه لومړی دمشرانو په کچه یوه غونډه جوړوي او وروسته دغه مشران د ټولنې دسیمه ییزې اسامبلې دبهرنیو چارو له وزیرانو سره ګډه غونډه دایروي.

**دسویل ختیځې آسیا دملتونو ټولنې سیمه ییزه مجمع**: دغه مجمع په ۱۹۹۴م. کال کې له ۲۷ غړو هیوادونو څخه جوړه شوې ده، چې لس یې په خپله دسویل ختیځې آسیا دملتونو ټولنې غړیتوب لري. او نور یې د بنګله دیش، کاناډا، چین، امریکا، اروپایي ټولنې، هند، جاپان، سویلي کوریا، شمالي کوریا، منګولیا، پاکستان، نوی زیلاند، روسیې، ختیځ تیمور، پاپوا ګوینیا او سریلانکا هیوادونه دی. دنوموړي مجمع اساسي هدف د اسیایې او پاسفیک هیوادونو ترمنځ په ځانګړو برخو کې د همکاریو پراختیا ده.

**داروپا-اسیا غونډه**: داروپایي ټولنې او دسویل ختیځې اسیا دملتونو ټولنې ترمنځ دغیر رسمي خبرو یو بهیر دی. چې په ۱۹۹۶م .کال کې شروع شوی دی.

**اېشیان (ASEAN) جمع درې**: دا ذ اېشین ټولنې دغړو او دچین، جاپان او جنوبي کوریا د هیوادونو ترمنځ غونډه ده چې دخپل منځي اړیکو د پراختیا په موخه تر سره کېږي او د اېشین جمع درې غونډې په نوم یادېږي.

**داېشین – روسیې غونده(ASEAN – Russia Summit)**: د اېشین ټولنې مشرانو او روسیې ترمنځ هر کال یو ځل غونډه دایرېږي چې دبیلا بیلو موضوعاتو په اړه په کې بحث کېږي. په پام کې ده چې دامریکا متحده ایالتونو سره هم دې ته ورته یو پلان عملي کړی شي.

**دختیزې اسیا غونډه (East Asia Summit)**: یوه بشپړه آسیایی غونډه ده چې د ختیځې اسیا او د اېشین سیمې د هیوادونو له خوا په کال کې یو ځل دایرېږي.روسیې په ۲۰۰۵م کال کې دې غونډې ته دګډون وړاندیز وکړ او په اوس وخت کې څارونکی غړیتوب لري. داغونډه په کال کې یو ځل داېشین له سرمشریزې وروسته جوړېږي.

**داېشین سرناسته(ASEAN cer meeting)**: داېشین دغړو هیوادونو او استرالیا اونوی زیلند ترمنځ خبرې د اېشین – سرناستې په نوم یادېږي.

د آسیا په جنوب کې د دغه پیاوړی سازمان راتلونکی نوره هم روښانه ښکاری، دوی په دغو دریو ورځو کې د ازاد تجارت په موضوعاتو بحثونه کوي. ممکن د آسیا په دغه برخه کی چین وتوانېږی یوه داسې تجارتی شبکه ایجاد کړی چې د عربو سمندر څخه تر روسیې او له کاشان وکاشغر او تبت څخه تر فرانسی او نورو اروپایی هیوادو غځېدلی وی، ډیره امیدواری ده چې افغانستان دغه شبکه کی شامل غړی وی.

د چین –ګوادر لویه لار اود(China–Pakistan Economic Corridor(CPECپروژه، یوه لار یو کمربند، دمرکزی اسیا او جنوبی آسیا د وصل نقطه(کابل)، د منطقوی ترانزیت او انضمام پیل شمیرل کیدای شی. د دغی پروژې یوه برخه هم له چمن څخه د کندهار او بیا تر هرات او له هغه وروسته د ترکمنستان په لوری په پام کې ده. د۴۷کلنو تباکوونکو او بی ګټې جنګونو له امله ټپي او په سینه پروت افغانستان دی خدای راویښ او روغ کړی چی په سرلوړی سره ځان له آسیایی هیوادو سره سیال او د منځنیو پېړیو له اوهامو او خرافاتو په راوتو سره د نوی او عزتمن ژوند په لوری روان شی.